| | |
|---|---|
| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |



د ديالکتيك ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم په اړه
ليکوال: ی. و. ستالين
ژباړه: فرهاد وياړ
خپرندويه: سيند خپرندويه
وبلاګ: ketabtoon.blogspot.com

# د ديالکتيک ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم په اړه

**ی. و. ستالين**

**ژباړه: فرهاد وياړ**

ديالکتيک ماترياليزم د مارکسيستي ـ لنينيستي ګوند نړۍ ليد دی. دا نړۍ ليد د دې لپاره ديالکتيک ماترياليزم نومول کيږي چې د طبيعت پديدو ته يې د پاملرنې ډول او د دې پديدو د څيړنې او د پوهيدنې ډول يې **ديالکتيکي** دی، خو د طبيعت د پديدو په اړه يې تفسير او له دې پديدو څخه استنباط او تيوري يې **ماترياليستي** ده.

تاريخي ماترياليزم، د ټولنيز ژوندانه د ارزونې ډګر ته د ديالکتيک ماترياليزم د اصولو پراخوالی، پر ټولنيز ژوندانه د ديالکتيک ماترياليزم د اصولو تطبيقول او د ټولنې او د هغه د تاريخ ارزونه ده.

مارکس او انګلس د خپل ديالکتيک د ډول د توصيفولو لپاره معمولاً هګل ته، د هغه فيلسوف په توګه چې د ديالکتيک بنسټيزې ځانګړنې يې فرموله کړې، استناد کاوه، خو نبايد داسې وانګيرل شي چې د مارکس او انګلس ديالکتيک کټ مټ هماغه د هګل ديالکتيک دی. حقيقت دا دی چې مارکس او انګلس د هګل ديالکتيک «معقوله هسته» اخيستی، ايده اليستي پوستکی ورته ليرې اچولی او بيا يې ديالکتيک ته لا زيات پراخوالی او پراختيا ورکړی او هغه يې پر ننني علمي بنه بدل کړی دی.

مارکس وايي:

«زما ديالکتيکي متود نه يوازې په بنسټ کې د هګل له متود سره فرق لري، بلکې مستقيماً د هغه د ديالکتيک متضاد دی. د هګل په باور؛ فکر، چې هغه يې د اند تر نوم لاندې آن يو خپلواکه ذات ګڼي، د واقعي نړۍ زيږونکی دی، او د هغه په باور واقعي نړۍ د اند او فکر يو انعکاس دی، په داسې حال کې چې زما په فکر؛ اند له هغې مادي پرته چې د انسان ماغزو ته انتقال شوی او په هغه کې يې بڼه بدله شوې ده، کوم بل څه نه دی.» (کارل مارکس، کپيټال، پاييزه، لومړی ټوک، دويم آلماني چاپ).

مارکس او انګلس د خپل ماتریالیزم د توصیفولو لپاره معمولاً فویرباخ ته هم د هغه فیلسوف په توګه چې د ماتریالیزم حقه حقوق یې په ځای کړي دي، استناد کوي. خو نباید داسي وانګیرل شي چې د مارکس او انګلس ماتریالیزم کټ مټ د فویرباخ ماتریالیزم دی. مارکس او انګلس په حقیقت کي د فویرباخ د ماتریالیزم «اصلي هسته» اخیستی، د هغي ایده الیستي او مذهبي او اخلاقي اضافي شیان یې لیرې اچولي او د هغه ماتریالیزم ته یې بیا هم پراختیا ورکړی او د فلسفي ماتریالیزم او علمي تیوري تر کچې یې رسولی دی. څرنګه چې پوهیږو، فویرباخ چې په خپله اساساً یو ماتریالیست وو خو بیا هم د ځان لپاره د ماتریالیست له نومولو سره مخالف وو. انګلس په کراتو ویلي دي چې فویرباخ «سره له دې چې اصولاً ماتریالیست دی، خو لا د ایده الیستي زړو لومو څخه خلاص شوی نه دی او همدا چې د هغه دیني، فلسفي او اخلاقي تیوري ګاني مطالعه کړو، حقیقي ایده الیزم یې موږ ته په ډاګه کیږي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۶۵۲ ـ ۶۵۴ مخ، روسي چاپ).

د دیالکتیک کلمه د یوناني «دیالګو» کلمې څخه ریښه اخیستی چې مانا یې مرکه او مباحثه ده. په تیرو وختونو کې دیالکتیک د هغه علم نوم وو چې په پوهیدلو سره به یې د سیال د دلایلو تناقضات ښکاره کول، حقایق به یې موندل او پر هغې به برلاسي کیدل. ځیني لرغوني فیلسوفان باورمن ول چې په فکرونو کې د تناقضاتو موندنه او د متضادو اندونو مخامخ کیدنه، د حقیقت د کشفولو تر ټولو غوره وسیله ده. د دیالکتیکي اصولو پر بنسټ، د تفکر لړۍ وروسته په طبیعي پدیدو کې هم ورګډه او د طبیعت د پیژندني په دیالکتیکي متود بدله شوه چې له مخې یې د طبیعت ټولې پدیدې په دایمي ډول متحرکي او متغییرې دي او طبیعي بدلونونه، په طبیعت کې د متضادو ځواکونو د متقابل عمل پایله ګڼل کیږي.

د دیالکتیک اساس په مستقیم ډول د متافیزیک په مخالفې خوا کې ځای لري.

**۱ـ مارکسیستي دیالکتیکي متد لاندیني بنسټیزې ځانګړنې لري:**

**الف.)** دیالکتیک، د متافیزیک په خلاف؛ طبیعت د اشیاو او پدیدو هغه ناڅاپي ټولګه نه ګڼي چې له یو بل نه جلا او منفرده او له یو بل سره کوم تړاو ونلري؛ بلکي، طبیعت د اشیاو او پدیدو هغه ټولګه او واحد ګڼي چې له یو بل سره ارګانیکي اړیکي لري، یو له بل سره تړاو لري او د یو بل مشروط ګڼل کیږي.

نو د دیالکتیک متود باورمن دی چې په طبیعت کې یوه پدیده هم، په منفرده او د هغه د چاپیریال د نورو پدیدو سره د اړیکو له پام نیونی پرته کوم مفهوم نشي درلودی. ځکه که د طبیعت په هره برخه کې پدیدې د چاپیریال له شرایطو پرته په پام کې ونیول شي، په بی معنی شئي بدلیږي او برخلاف که چیرې د یوې پدیدې نه جلا کیدونکي اړیکي د هغې د خپل چاپیریال د محدودو شرایطو تر څنګ د نورو ګاونډیو پدیدو سره هم په پام کې ونیسو، پدیده مفهوم پیدا کوي او موږ کولای شوو هغه توضیح کړو.

**ب.)** دیالکتیک، د متافیزیک په خلاف چې طبیعت په آرامتیا، رکود او په نه بدلیدونکي سکون کې ګوري؛ طبیعت په حرکت، دوامداره بدلون، پرمختګ او د دایمي نوی کیدني په حالت کېویني؛ چې تل په کې یو شئی رامنځته کیږي، پرمختګ کوي او یو بل شئی وروست او له منځه ځي.

نو د دیالکتیک متود ایجابوي چې پدیدې نه یوازې د متقابله اړیکو او پر یو بل د مشروطیدني له اړخه، بلکې باید د حرکت، بدلون، پرمختګ، پیدایښت او زوال له اړخه هم په پام کې ونیول شي.

د دیالکتیک متود لپاره هغه شیان چې دا وخت پیاوړي ښکاري خو د زوال او نابودۍ بهیر وهي لومړیتوب نلري، بلکې هغه شیان اهمیت لري چې رامنځته کیږي او پرمختګ کوي؛ که څه هم دا وخت ضعیفه ښکاره شي؛ ځکه دیالکتیکي متود هغه شیان نه ماتیدونکي ګڼي چې رامنځته کیږي او پرمختګ کوي.

انګلس وایي:

«د طبیعت ټول شیان؛ له کوچني څخه تر لوي پورې، د شګې له داني څخه تر لمر پورې، له پروتیست (لومړنی ژوندی سلول ـ ی. ستالین) څخه تر انسان پورې، په دایمي پیدایښت او زوال، نه غوڅېدونکي بهیر او دوامداره خوځښت او بدلون کې دي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۴۸۴ مخ).

**ج.)** دیالکتیک، د متافیزیک په خلاف د تکامل بهیر د ودې او پرمختیا هغه ساده بهیر نه ګڼي چې په کې کمي بدلونونه په کیفي بدلونونو وانه وړي، بلکې هغه تکامل یې ګڼي چې په کې کم اهمیته او پټ کمي بدلونونه په ښکاره او بنسټیزه کیفي بدلونونو اوړي. د دیالکتیک متود باور لري چې په دې بهیر کې کیفي بدلونونه ورو ورو نه، بلکې چټک او ناڅاپه تر سره کیږي او یوځلي له یو حالت څخه بل حالت ته اوړي، د دې بدلونونو حدوث تصادفي نه دی بلکې یو قانوني بنسټ لري او د نامحسوسه او تدریجي کمي بدلونونو د تراکم په پایله کې رامنځ ته کیږي.

له دې امله دیالکتیکي متود، د تکامل بهیر هغه دوراني حرکت نه ګڼي چې د تیرو پړاونو تکرار وي، بلکې هغه بهیر یې ګڼي چې مخ په وړاندې او صعودي حالت لري، د مخکني کیفي حالت څخه نوي کیفي حالت ته اوړي، له بسیط څخه مرکب او له ټیټوالي څخه لوړوالي ته حرکت کوي.

انګلس وایي:

«طبیعت، د دیالکتیک معیار او د محک ډبره ده او نوي طبیعي علومو د دې آزمایښت لپاره فوق العاده شتمني وسیلې او مواد، چې هره ورځ زیاتیږي، چمتو کړي او په دې ډول ثابتوي چې بالاخره د طبیعت ټول شیان نه په متافیزیکي، بلکې په دیالکتیکي ډول تر سره کیږي. طبیعت، په یوه او مکرره توګه پر یوې دایرې حرکت نه کوي او وهلې لاره له سره نه نیسي، بلکې یو حقیقي تاریخ لري چې شا ته یې پریږدي. دلته باید له ټولو زیات له داروین څخه یادونه وکړو چې اثبات یې کړه ـ چې اوسنی ټوله ارګانیکه نړی له بوټو او ژویو څخه تر انسان پورې د تکاملي بهیر محصول دی او د تکامل دې بهیر میلیونونو کلونه دوام درلودلی ـ چې په دې اثبات سره یې متافیزیکي نظریې ته سخت ګوزار ورکړ.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۲۳ مخ).

انګلس، د دیالکتیکي تکامل، چې له کمي بدلون څخه کیفي بدلون ته اوښتل دي، د توصیفولو په ترڅ کې داسې وایي:

«په فیزیک کې... د هر بدلون څخه منظور له کمیت څخه کیفیت ته لیږدیدنه او په ورته وخت کې د حرکت د هغې کچې کمي تغییر دی چې یا په خپله جسم او ذات کې وي او یا هم هغه ته وارد شوی وي. مثلاً په شروع کې د اوبو د حرارت درجه د اوبو په خوټیدو کې کومه اغیزه نلري، خو که چیرې حرارت ډیر یا کم کړو داسې شیبه رارسیږي چې د اوبو ذرې په یو حالت کې په بخار او په بل حالت کې په کنګل بدلیږي.... او همدا ډول د الکتریکي بهیر حداقله اندازه لازمه ده چې د پلانین یو مفتول روښانه او ولګوي، په همدې ډول هر فلز د ذوب کیدو لپاره د حرارت ځانګړې درجې ته اړتیا لري، یا دا چې هره مایع، د یوه معلوم فشار لاندې، یو ځانګړی ټکی لري چې په دغه ټکي کې کنګل کیږي او یا تر هغه ځای پورې چې مونږ وکړای شوو ورته لازم حرارت برابر کړو، جوشیږي. او بالاخره د هر ګاز لپاره د فشار ځانګړې درجه موجوده ده چې په دغه درجه کې کولای شوو د فشار او برودت د معینو شرایطو لاندې دغه ګاز په مایع بدل کړو.... هغه ثابته مقادیرچې په فیزیک کې مصطلح دي (هغه ټکي چې په کې یو حالت په بل حالت بدلیږي ـ ی. ستالین) غالباً هغه مهم ټکي دي چې په کې د کمي حرکت ډیرول او کمول (تغییرات)، په یوه جسم کې د کیفی تغییر لامل کیږي او په پایله کې کمیت په کیفیت بدلیږي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۵۲۷ ـ ۵۲۸ مخ ).

انګلس بیا د کیمیا موضوع راخلي او وايي:

«کیمیا،کولای شوو د اجسامو د کیفی تغییراتو علم وګڼو چې د کمي ترکیب او تغییر تر اغیزې لاندې رامنځته کیږي. هګل هم په دې مسئلي پوهیدو... د ساري په توګه اکسیجن په پام کي ونیسو: که په یو مالیکول کي د دوو معمولي اتمونو پر ځای دری اتمه اکسیجن کیږدو د ازن په نامه یو نوی جسم رامنځته کیږي چې ښکاره ده چې هم له بوي او هم د فعل او انفعالاتو له پلوه د معمولي اکسیجن سره توپیر لري؛ د ازت یا اورلګید سره د اکسیجن بیلابیل نسبتونه خو پریږده چې هر یو یې نوی جسمی جوړوي چې د کیفیت له پلوه د مخکني اجسامو سره بیخي توپیر لري!» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۵۲۸ مخ).

بالاخره انګلس، دورینګ چې هګل یې له ټولو اړخونو رټلی دی او په ورته وخت کي د هګل دا مشهوره قاعده: چې له مړې نړۍ څخه ژوندۍ نړۍ او له غیر ارګانیکي نړۍ څخه ارګانیکي نړۍ ته عبور، نوې وضعي ته د اوښتني په مانا ده؛ په پټه اخیستلي، تنقیدوي او وايي:

«دا کاملاً د سنجش د اړیکو هغه غوټه لرونکی لړۍ ده چې هګل ځرګنده کړې وه چې  په یوه معین ټکي کي کمي زیاتیدنه یا کمیدنه، د کیفي جهش لامل کیږي. د ساري په توګه دیخو اوبو او د تودو اوبو د خوټکیدني او کنګل کیدنی ټکي هغه غوټي دي چې په دې غوټو کي له ځانګړي فشار سره نوي حالت رامنځته کیږي او په پایله کي کمیت په کیفیت بدلیږي.» ( هماغه کتاب، ۴۵ ـ ۴۶ مخ).

**د.)** دیالکتیک، د متافیزیک د اصولو پر خلاف باور لري چې د طبیعت پدیدې او اجسام په خپل منځ کي هم تضادونه لري، ځکه چې دا پدیدې یو مثبت قطب او یو منفي قطب، یوه تیره او یوه راتلونکي لري؛ ټول داسي عنصرونه لري چې یا د ودې او تکامل په حال کي دي یا د نابودۍ او زوال لاره وهي. د دې تضادونو مبارزه؛ یعني د پخواني او نوي په منځ کي مبارزه؛ یعني د هغه چې مري او هغه چې دنیا ته راځي په منځ کي مبارزه او هغه چې له منځه ځي او هغه چې پرمختګ کوي تر منځ مبارزه؛ د تکامل د بهیر دننني منځپانګه او د کمي تغییراتو  کړلیچونه دي چې په کیفي تغییراتو بدلیږي.

له دې امله دیالکتیک متود په دې باور دی چې  له ادنی څخه عالي ته د تکامل بهیر؛ د پدیدو د همغږي تکامل او پراختیا نتیجه نه، بلکي برعکس د اشیاو او پدیدو د دننني تضادونو د ځرګندیدني او د همدې تضادونو پر اساس د متضادو تمایلاتو تر منځ د «مبارزې» پایله ده.

لنین وايي:

«دیالکتیک د کلیمي په واقعي مانا عبارت دی د اشیاؤ په منځپانګي کي د تضادونو له پیژندني څخه.» (لنین «فلسفي یادښتونه» ۲۶۳ مخ ، روسي چاپ).

او بیا لیکي:

«تکامل، د تضادونو مبارزه ده» (لنین، ۱۳ ټوک، ۳۱۰ مخ، روسي چاپ)

دا وو د مارکسیستي دیالکتیکي متود د اصلي ځانګړتیاو لنډون.

په کاملي آسانتیا پوهیږو چې د ټولني په تاریخ او په ټولنیز ژوندانه کي د دیالکتیک متود پراخول او د ټولني په تاریخ او د پرولتاریا د ګوند په عملي فعالیتونو کي یې کارول څومر زیات اهمیت لري.

کله چې په نړۍ کي منفردې او جلا پدیدې نشته او که په رښتیا ټولي پدیدې له یو بل سره تړلي او متقابلاً مشروطي دي، ځرګندیږي چې په تاریخ کي د هر ټولنیز رژیم او یا د هر ټولنیز غورځنګ په اړه نباید د ډیرو

مورخينو په شان د «ابدي عدالت» يا د بلې دمخه غوره شوې ايدې له مخې قضاوت وکړو، بلکې بايد هغه شرايط چې دا رژيم يا ټولنيز غورځنګ يې رامنځته کړی او له هغې سره تړاو لري، په پام کې ونيسو.

ښکاره خبره ده چې په اوسني شرايطو کې د بردګۍ رژيم يو بې مانا او احمقانه او غير طبيعي رژيم دی، خو همدا د بردګۍ رژيم د لومړني کمون د رژيم د پاشيدلو په شرايطو کې کاملاً يوه منطقي او طبيعي پديده وه، ځکه چې دا رژيم د لومړني کمون په پرتله، يو قدم مخې ته وو.

د تزاري حکومت په شرايطو کې د دموکراسۍ پر بنسټ د يوې بورژوايي جمهورۍ د جوړولو او د ۱۹۰۵ کال په روسيه کې د ساري په توګه د بورژوايي ټولنې غوښتنه په بشپړه توګه په ځای او سمه او انقلابي غوښتنه وه، ځکه په هغه وخت کې پانګواله جمهوري يو ګام مخې ته وه. خو په اوسني شرايطو؛ يعنې د سوسياليستي شوروي د جمهوريتونو د اتحاد په شرايطو کې د يوې بورژوايي جمهوري غوښتنه بې مانا او د انقلاب ضد غوښتنه ده، ځکه داسې يوه جمهوري د شوروي جمهوري په پرتله شاتګ شميرل کيږي.

ټول شيان د مهال او مکان له شرايطو سره تړاو لري.

ښکاره خبره ده چې د دې شرايطو له پام نيولو پرته، له**تاريخي پلوه** د ټولنيزو پديدو ارزول او د تاريخ د علم موجوديت او پرمختګ ناشونی دی، ځکه يوازې دا ډول ارزونه ده چې د تاريخ علم نه پرې ږدي په انارشيستي احتمالاتو او بيلابيلو نامعقولو تيروتنو باندې واوړي.

او بيا که په رښتيا نړۍ په هميشنۍ حرکت او تکامل کې ده، که واقعاً د ورسته عناصرو نابودي او د نوي زيږيدونکو عنصرونو وده او پرمختګ د تکامل قانون دی، څرګنديږي چې نور د «نه تکنې» ټولنيزو انتظاماتو او د خصوصي مالکيت او زبيناک «ابدي اصول» او د مالکانو څخه د دهقانانو او د پانګوالو څخه د کارګرانو د اطاعت «ابدي نظرونه» معقوليت نلري.

نو دې پايلې ته رسيږو چې سوسياليستي رژيم کولای شوو د پانګواله رژيم ځايناستی کړو، څرنګه چې د فيوډاليزم رژيم هم په خپل وخت کې په پانګواله رژيم بدل شو.

له دې نتيجې اخلو چې نبايد د خپل کار او فعاليت تمرکز د ټولنې پر هغو طبقو وکړو چې نور د ودې او پرمختګ په حال کې نه دي که څه هم دا وخت واکمن او پياوړي وي، بلکې بايد د ټولنې هغو طبقو ته پام وکړو او ورباندې ډډه ووهو چې د پرمختګ په حال کې دي او راتلونکی لري که څه هم نن له پياوړي ځواک څخه برخمن نه وي.

د تيرې پيړۍ په ۱۸۸۰ـ ۱۸۹۰ کلونو کې، په هغه پيړ کې چې د ناردونکيانو په وړاندې د مارکسيستانو مبارزې دوام درلود، د روسيې پرولتاريا د منفردو دهقانانو په وړاندې، چې هغه وخت يې د ټولنې اکثريت جوړاوه يو کوچنی اقليت وو، خو دا اقليت د يوې طبقې په توګه د ودې او پرمختګ په حال کې وو. حال دا چې دهقانان د يوې طبقې په توګه د شيندلو په حال کې ول. مارکسيستانو تيروتنه ونکړه چې خپل فعاليت يې يوازې پر پرولتاريا چې د پرمختګ په حال کې وه، متمرکز کړ؛ ځکه څنګه چې پوهيږو پرولتاريا چې په لومړيو کې يو کوچنی ځواک وو، ورو ورو يې وده وکړه، پرمختګ يې وکړ او په لومړني درجه سياسي او تاريخي ځواک بدل شو.

نو د دې لپاره چې په سياست کې تيروتنه ونکړو، ښايي مخې ته وګورو نه شا ته.

او که دا خبره سمه ده چې له تدريجي کمي بدلونونو څخه چټک او ناڅاپي کيفي بدلونونو ته اوښتل د تکامل له قوانينو څخه شميرل کيږي، نو څرګنديږي چې انقلابي بدلونونه چې د زيارکښو پرګنو په لاس تر سره کيږي، په بشپړه توګه يوه طبيعي پديده ده چې څوک يې مخه نشي نيولی.

نو له پانګوالۍ څخه سوسیالیزم ته انتقال او د پانګوالۍ له ظلمونو څخه د کارګري طبقې خلاصون، نه د پڅو بدلونونو او سمونو (رفورم) له لارې، بلکي یوازې د پانګوالۍ رژیم د کیفي بدلون او د انقلاب له لارې تر سره کیږي.

نو بیا د دې لپاره چې په سیاست کې تیروتنه ونشي؛ باید انقلابي ووسو، نه اصلاح غوښتونکي.

او بیا که چیرې سمه وي چې تکامل د دننني تضادونو له امله او د دې اضدادو پر بنسټ او پر دې تضادونو د غلبې لپاره د متضادو خواکونو د مبارزې په پایله کې رامنځته کیږي، نو بیا ښکاره ده چې د پرولتاریا طبقاتي مبارزه، په مکمله توګه یوه طبیعي او اړینه پدیده ده.

نو، نه ښایي چې د پانګوالۍ رژیم پر تضادونو چونه وشیندو، بلکي د دې عکس، هغه باید کشف کړو، بربنډ یې کړو؛ نباید د طبقاتي مبارزې د غلي کولو په لټه کې شوو، بلکي هغه باید تر پای پورې ورسوو.

نو بیا هم د دې لپاره چې په سیاست کې تیروتنه ونکړو، ښایي یو طبقاتي او پرولتاریایي او نه پخلا کیدونکی سیاست تعقیب کړو. د اصلاح غوښتونکي سیاست څخه چې مفهوم یې د پرولتاریا او پانګوالو د ګټو همغږي او یا د پانګوالۍ رژیم څخه د سوسیالیزم د «زرغونیدو» لپاره جوړجاړی دی، ډډه وکړو.

دا د هغه څه منځپانګه ده چې مارکسیستي دیالکتیکي متود یې د ټولنیز ژوندانه او د ټولنې له تاریخ سره د تطبیق پر مهال یې ظاهره وي.

خو مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم د فلسفي ایده الیزم سره له بنسټ او بنیاد څخه په تضاد کې دی.

**۲ـ مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم لاندې ځانګړنې لري:**

**الف.)** د ایده الیزم په خلاف چې نړۍ د «مطلقي ایدې»، «د یو کلي روح» او د «شعور» د تجسم په بڼه ګوري، د مارکس مادي فلسفه باور لري چې دنیا بالذاته مادي ده او د نړۍ بیلابیلي پدیدې، د متحرکي مادې بیلابیلي بڼې دي او د پدیدو متقابله شرایط او اړیکي چې پر دیالکتیکي اصولو ولاړې دي، د متحرکي مادې د تکامل لازمه قوانین جوړوي او دنیا د مادې د حرکت د قوانینو پر بنسټ د ودې او تکامل لاره وهي او کوم «کلي روح» ته اړتیا نلري.

انګلس وایي:

« ماتریالیستي نړۍ لید په ساده ډول عبارت دی د طبیعت له پیژندني څخه په څه ډول چې موجود دي، بې له دې چې له بهر څخه کوم څه ورباندې ورزیات شي.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۱۴ ټوک، ۶۵۱ مخ).

لنین (د فلسفي یادښتونو په ۳۱۸ مخ، روسي چاپ کې) د لرغوني یونان فیلسوف، هراکلیوس وینا ته چې باور یې درلود: «دنیا یوه ده او د هیڅ خدای یا انسان لخوا پیدا شوی نه ده او هغه همیشنی او تلپاتي لمبه وه، ده او وي به چې رڼا یې د ټاکلو قوانینو له مخې کله ځلیږي او کله هم مړه کیږي» اشاره کوي او وایي «دا د دیالکتیکي ماتریالیزم د اصولو سمه او غوره تشریح ده.»

**ب.)** د ایده الیزم د اصولو په خلاف چې ادعا لري یوازې دا زمونږ شعور دی چې وجود لري او مادي دنیا او د ژوندانه نړۍ او طبیعت زمونږ د شعور او حواسو او تصوراتو او عقایدو غبرګون دی؛ د مارکس فلسفي ماتریالیزم نظریه دا ده چې ماده، طبیعت او وجود یو عیني (ابژکتیف) حقیقت دی چې زمونږ له ذهن او شعور څخه بهر په خپلواکه توګه موجود دی. ماده لومړی ځای لري، ځکه چې دا ماده ده چې زمونږ د احساساتو او تصوراتو او د شعور سرچینه ده، په داسي حال کې چې شعور دویم ځای لري، ځکه چې شعور په خپله د مادې انعکاس دی، د وجود انعکاس دی. فکر، د مغز _ چې په خپله یوه ماده ده _ هغه محصول دی چې په خپل تکاملي بهیر کې بشپړتیا ته

رسیدلی دی. په بله وینا، فکر د مغز محصول دی او ماغزه د تفکر جهاز او بالنتیجه که و نه غواړو لویه تیروتنه وکړو، نباید فکر له مادې بیل کړو.

انګلس وایي:

«د فکر او وجود او د اروا او طبیعت تر منځ اړیکه د ټولې فلسفې اصلي او لویه مسئله ده... دې مسئلې ته ځواب ورکونه فلاسفه په دوه لویو پنډغالو ویشي: هغه کسان چې فکر او اروا پر طبیعت او وجود لومړي ګڼي... په ایده الیستي پنډغالي او هغه کسان چې طبیعت لومړی ګڼي، د بیلابیلو ماتریالیستي مکتبونو سره تړاو لري.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۲۹ مخ).

او:

«مادي نړۍ چې په حواسو پیژندل کیږي او موږ په خپله هم له هغې سره تړاو لرو، یوازینی واقعي نړۍ ده... زموږ شعور او تفکر که هرڅومره عالي وي د مغزو له محصول پرته چې یو مادي جوړښت او جسم دی، بل څه نه دی. ماده د روح مولود نه، بلکې دا روح دی چې د مادې عالي محصول دی.» ( هماغه کتاب، ۳۳۲ مخ).

مارکس د مادې او فکر په اړه وایي:

«ممکنه نه ده چې وکړای شو تفکر له متفکرې مادې څخه جلا کړو. ماده د ټولو هغو تغییراتو بنسټ دی چې رامنځته کیږي» (هماغه کتاب، ۳۰۲ مخ).

لنین د مارکس د فلسفي ماتریالیزم په اړه وایي:

«ماتریالیزم په ټولیزه باورمن دی چې واقعي او عیني ژوندون (ماده) له شعور او احساساتو او تجربې څخه خپلواکه دی... شعور... د ژوندون له انعکاسه پرته بل څه نه دی او په خپله غوره بڼه کې د ژوندانه تقریباً سم (بشپړ او په نهایي درجه دقیق) انعکاس دی» (لنین، ۱۳ ټوک، ۲۶۶ ـ ۲۶۷ مخ).

او بیا وایي:

«ماده هغه شئی دی چې زموږ د حواسو پر جوړښت اغیزه کوي او احساس رامنځته کوي؛ ماده یو عیني حقیقت دی چې بهرنی وجود لري او موږ هغه د احساس سره پیژنو... ماده، طبیعت، وجود او جسم لومړی مقام؛ خو روح او شعور، احساس او نفسانیت دویم مقام لري.» (هماغه کتاب، ۱۱۹ـ ۱۲۰ مخ).

ـ « نړۍ د مادې او «د مادې د تفکر» د حرکت د څرنګوالي د ننداره ډګر دی» (هماغه کتاب، ۲۸۸ مخ).

ـ «مغز د تفکر دستګاه ده» (هماغه کتاب، ۱۲۵ مخ).

**ج.)** د ایده الیزم د اصولو پر خلاف چې د نړۍ د قوانینو او اصولو د معرفت شونتیا انکاروي؛ زموږ د پوهې په روغتیا ایمان نلري؛ په عیني حقیقت باور نلري؛ تصور کوي چې نړۍ له هغو «خپلواکو ذواتو» څخه ډکه ده چې نشو کولای هغه د علم په وسیله وپیژنو؛ د مارکس فلسفي ماتریالیزم نړۍ او د هغه قوانین په بشپړه توګه د پیژندنې وړ ګڼي او وایي چې د طبیعت د قوانینو سره زموږ معرفت، د تجربې او عمل له لارې لاسته راغلی او دا معرفت معتبر او د عیني حقایقو په کتار کې راځي او په نړۍ کې داسې یو څه چې د پیژندلو وړ نه وي، نشته؛ که چیرې داسې شیان وي چې نن موږ ته مجهول دي، یوه ورځ به کشف او د علمي او عملي وسایلو سره به وپیژندل شي.

انګلس د کانت او نورو ایده الیستانو پر فرضیه، چې د دنیا د احوالو د پوهیدلو په نه شونتیا او په ناپیژانده «خپلواکو ذواتو» باور لري، نیوکه کوي او له هغه مشهورې ماتریالیستي نظریې څخه دفاع کوي چې وایي زموږ معرفت معتبره دی. هغه داسې لیکي:

«د دي فیلسوفانه بوالهوسیو د بطلان پریکنده دلیلونه هماغه عمل، په تیره بیا تجربه او صنعت دی. کله چي موږ کولای شوو د یوې طبیعي پدیدې په اړه د خپلې نظریې سموالی د هغه د ایجادولو په وسیله ثابت کړو، یعني هغه د ځانګړو شرایطو په مرسته جوړ کړو او خپل خدمت ته یې وګمارو، نو د دې سره توانیدلي یوو چي د کانت د «خپلواکه ذات» بی معنی کیسه پای ته ورسوو. هغه کیمیایی مواد چي د نباتاتو او حیواناتو د حیاتي جوړښت څخه لاسته راځي یو وخت «خپلواکه ذوات» ول، خو همدا چي عضوي کیمیا وکړای شول هغه جوړ کړي دا «خپلواکه ذوات» په موږ پوري په اړونده ذواتو باندې واوښتل، لکه د روناس یعني آلیزارین رنګینه ماده چي نن هغه د پخوا په شان د روناس د بوټي له ریښې څخه چي په بیدیا کې شنه کیږي، نه استخراجوو؛ بلکې په ډیره کمه بیه او په آسانی یې د سکرو د ډبرو له قطران څخه لاسته راوړوو. د کوپرنیک لمریزه منظومه، پوره درې سوه کاله له یوې فرضیې پرته بل څه نه وه او سره له دې چي ډیره معتبره فرضیه وه خو بیا هم یوه فرضیه وه، خو کله چي **لوریه** د هغو شمیرو سره چي د همدې سیستم له مخې یې لرلې، نه یوازې دا چي د یوې سیارې شتوالي چي تر هغه وخت پورې مجهوله وه، ثابت کړ؛ بلکې د حساب سره د دې سیارې ځای د سماواتو په منځ کې هم معلوم کړ او کله چي ګاله (Galle) دا سیاره پیدا کړه، د کوپرنیک منظومه ثابته شوه.» ( ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۲۳۰ مخ).

لنین، د بوګدانف، بازاروف، یوشکویچ او د ماخ د نورو پلویانو په څیر کسان د فیدئیزم (هغه ارتجاعي نظریه چي د علومو په پرتله د ایمان په لومړیتوب باور لري) له اصولو څخه په پیروي تورنوي او د ماتریالیزم له مشهورې نظریې څخه چي د طبیعي قوانینو په اړه زموږ علمي معلومات معتبر شمیري او عملي قوانین عیني حقیقت ګڼي، د دفاع په ترڅ کې وایي:

«د اوسني عصر فیدئیزم په هیڅ ډول علم نه نفي کوي، بلکې د علم «له حده زیاته دعوا»، چي د عیني حقیقت د شتوالي دعوی ده، نفي کوي. که په رښتیا (څرنګه چي ماتریالیستان باور لري) عیني حقیقت وجود ولري، که په رښتیا طبیعي علوم، چي بهرنی دنیا په بشري «تجربیاتو» کې منعکسوي، هغه یوازیني علوم وي چي کولای شي عیني حقیقت ښکاره کړي نو بیا هر ډول فیدئیزم په مطلق ډول ردیږي.» ( لنین، ۱۳ ټوک، ۱۰۲ مخ، روسي چاپ).

دا د مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم ځانګړني دي.

له دې سره په آسانی دې پایلې ته رسیږو چي د ټولنیز ژوندانه او د ټولني د تاریخ په مطالعه کې د فلسفي ماتریالیزم د اصولو غزول څومره زیات اهمیت لري او د ټولني په تاریخ او د پرولتاریایي ګوند په عملي فعالیت کې د دې اصولو تعمیمول څومره مهم دي.

که د طبیعي پدیدو تر منځ اړیکې او د هغوی متقابل مشروطیت، د طبیعت د تکامل قطعي قوانین دي نو بیا د ټولنیز ژوند د پدیدو تر منځ اړیکې او متقابل مشروطیت هم احتمالي او ناڅاپي نه، بلکې د ټولني د تکامل اړین قوانین دي.

نو له دې امله ټولنیز ژوند او د هغې تاریخ د «تصادفاتو» د تراکم ټولګه نه ده، ځکه د ټولني تاریخ د معینو قوانینو پر بنسټ د ټولني تکاملي بهیر دی او د ټولني د تاریخ ارزونه، علم دی.

نو د پرولتاریا ګوند عملي فعالیت نباید د «مخورو کسانو» د ستاینې وړ تمایلاتو یا « دعقل تقاضا» او «عمومي اخلاق» او داسې نورو شیانو باندې ولاړ وي، بلکې د ټولنیز تکامل قوانین او په دې قوانینو کې مطالعه باید د دې فعالیت اساس او بنسټ جوړ کړي.

او بیا که په رښتیا نړۍ د پیژندني وړ ده او د طبیعت د تکامل د قوانینو په اړه زموږ معلومات معتبر او د عیني حقایقو پر بنسټ ودریدلي، نو ژوند او ټولنیز تکامل هم د پیژندني وړ دی او د ټولنیز تکامل د قوانینو په اړه علمي احکام هم معتبر او د عیني حقایقو په کتار کې راځي.

نو له همدې امله د ټولنې د تاریخ علم د ټولنیز ژوندانه د پدیدو له ټولې پیچلتیا سره، کیدای شي د بیولوژي په شان یو دقیق علم شي څو د ټولنیز تکامل د قوانینو د عملي تطبیق لپاره د کاروني وړ وګرځي.

نو د پرولتاریا ګوند نباید د خپلو عملي فعالیتونو لپاره تصادفي دلایل د لارښود په توګه غوره کړي، په ځای باید د ټولنې د تکاملي قوانینو او له دې قوانینو څخه د لاسته راغلیو عملي پایلو څخه پیروي وکړي.

او همدلته دی چې سوسیالیزم، د بشر د راتلونکي لپاره د زړه کښونکي رویا څخه په علم بدلیږي.

نو د علم او عملي فعالیت تر منځ اړیکه او د تیوري او عمل تر منځ اړیکه، یوځای باید د پرولتاریایي ګوند تګلاره جوړه کړي.

کله چې طبیعت، ژوند او مادي نړۍ لومړی مقام او شعور او تفکر دویم مقام ولري او له لومړني څخه مشتق شوي وي او که مادي نړۍ عیني حقیقت دی او شعور پورې تړلې نه دی او شعور د دې عیني حقیقت انعکاس دی، نو بیا دې پایلې ته رسیږو چې د ټولنې مادي حیات او ژوند هم په لومړۍ درجه او معنوي ژوند په دویمه درجه کې او له هغې څخه مشتق شوی دی او د ټولنې مادي حیات عیني او د انسان له ارادې څخه بهر یو واقعیت دی؛ په داسې حال کې چې د ټولنې معنوي ژوند د دې عیني حقیقت انعکاس او همدا ډول د ژوند انعکاس دی.

نو، نباید د ټولنې د معنوي حیات د جوړښت سرچینه او د ټولنیزو تیوریګانو او نظراتو او د سیاسي سازمانونو د عقایدو اساس په خپله نظراتو او تیوریګانو او اندونو او سیاسي سازمانونو کې ولټوو، بلکې باید د ټولنې د مادي ژوند په شرایطو او د هغې ټولنې په وجود کې ولټوو چې دا اندونه، تیوریګاني او نظرات د هغې انعکاس دی.

نو، که چیرې د ټولنې د تاریخ په بیلابیلو پړاونو کې، مختلف ټولنیز نظرات او اندونه او بیلابیل سیاسي سازمانونه او عقاید لیدل کیږي او که د بردګۍ رژیم پر مهال له یو ډول اند، ټولنیزه تیوري، نظریه او سیاسي سازمان سره مخامخ کیږو او د فیوډالیزم پر مهال له یو بل ډول او همدا ډول د پانګوالۍ په پړاو کې د دې عقایدو او ټولنیزو تیورګانو دریم ډول ګورو؛ لامل یې په خپله په اندونو، تیوریګانو، نظراتو او د سیاسي سازمانونو په «طبیعت» او «خاصیت» کې اختلاف نه، بلکې لامل یې د ټولنیز تکامل په بیلابیلو پړاونو کې د ټولنې د مادي حیات مختلف شرایط دي.

د ټولنې د مادي حیات شرایط او ژوند چې هر ډول وي، ایدې او تیوریګاني او سیاسي نظرات او سیاسي سازمانونه به هم همغه شان وي.

مارکس په دې اړه لیکي:

«څه چې د خلکو ژوند ټاکي، بشري شعور نه؛ بلکې بالعکس ټولنیز ژوند دی چې د بشر شعور ټاکي.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۲۹ مخ، روسي چاپ).

د دې لپاره چې د پرولتاریا ګوند په سیاست کې خطا ونکړي او د تشو وچو قرتنو په برخلیک اخته نشي نباید خپل فعالیت د «انساني عقل» پر جامدو «پرنسیپونو» ودروي، بلکې باید د ټولنې د مادي حیات په ځانګړو شرایطو باندې، چې ټولنیزه قطعي ځواک دی، ډډه ووهي. د دې ګوند د کار بنسټ نباید د «سترو مخورو» کسانو د ستاینې وړ تمایلاتو باندې ودریدلی وي، بلکې باید د ټولنې د مادي ژوند د تکامل پر واقعي اړتیا ولاړ وي.

د اتوپیستانو، ناردونیکانو، انارشیستانو او اس ار یانو د سقوط یو لامل دا دی چې دوئ د ټولنې په تکامل او پراختیا کې د مادي حیات د شرایطو لومړی درجی رول نه منلو او په ایده الیزم کې ډوب او د دې پر ځای چې خپل عملي فعالیت د ټولنې د مادي ژوندانه د تکامل پر غوښتنو ودروي، د خپلو فعالیتونو بنسټ یې له دې غوښتنو پرته او د دې غوښتنو په خلاف کاروه، یعني دا چې د کار مدار یې په «خیالي نقشو» او «هر اړخیزه طرحونو» ودریدلی وو، کوم چې د ټولنې د حقیقي ژوند څخه لیرې بریښیده.

د مارکسیزم ـ لنینیزم ځواکمنتیا او حیاتي قوه په دې کې ده چې هیڅکله د ټولنې له حقیقي ژوندانه څخه نه لیرې کیږي، په خپل عملي فعالیت کې یوازې د ټولنې د مادي ژوند د تکامل او پراختیا په مقتضیاتو ډډه وهي.

له هغه څه چې مارکس ویلي دي نباید داسي نتیجه واخلو چې ټولنیزې ایدې او تیوریګانې، نظریات او سیاسي سازمانونه د ټولنې په ژوندانه کې کوم اهمیت نلري او د ټولنې د مادی حیات پر شرایطو او تکامل باندې کوم متقابل اثر نکوي. دلته د نظریاتو او تیوری ګانو او ټولنیزو افکارو او سیاسي سازمانونو د منشا په اړه، د هغوی د پیدایښت په اړه او په دې اړه چې د ټولنې معنوي حیات د هغې د مادي شرایطو انعکاس دی، وغږیدو. خو د تاریخي ماتریالیزم مکتب نه یوازې دا چې په تاریخ کې د دې نظریاتو او تیوري ګانو او ټولنیزو افکارو او سیاسي سازمانونو د رول له «اهمیت» څخه منکر نه دی، بلکې په ټولنیز ژوندانه او د ټولنې په تاریخ کې د هغو پر جدي رول او اهمیت ټینګار کوي.

ټولنیزې ایدې او تیوري ګانې بیلابیل ډولونه لري. داسي زړې ایدې او تیوري ګانې شته چې عمر یې پای ته رسیدلی او د ټولنې د مضمحل کیدونکي او خوسا ځواکونو د منافع لپاره یې د خدمت ملا تړلی ده. د دوی اهمیت په دې کې دی چې د ټولنې د تکامل او پرمختګ خنډ ګرځي. داسې نوی او پرمختللي ایدې او تیوري ګانې هم شته چې د ټولنې د مخکښو ځواکونو د ګټو لپاره خدمت کوي. د هغوی اهمیت په دې کې دی چې د ټولنې پراختیا او تکامل او پرمختګ آسانوي او څومره چې د ټولنې د مادي حیات غوښتنې په څیرتیا او سمه توګه منعکس کړي، په هماغه اندازه اهمیت پیدا کوي.

نوې ټولنیزې ایدې او تیوري ګانې یوازې وروسته له هغې رامنځته کیږي چې د ټولنې پراختیا او د ټولنې د مادي ژوندانه تکامل د نویو مسئلو سره مخامخ شي. خو کله چې دا تیوریګانې او ټولنیزې ایدې رامنځته شي په هغه جدي ځواک اوړي چې د ټولو هغو نویو چارو حل آسانوي چې د مادي ژوندانه تکامل یې ورته مخې ته ږدي او د ټولنې پرمختګ لا آسانوي. همدلته دی چې د نویو ایدو او تیوري ګانو او نظراتو او د سیاسي سازمانونو د سنبالونکي، چمتو کونکي او تبدیلونکي رول، ټول اهمیت دقیقاً راڅرګندیږي. که په ټولنې کې نوې ایدې او تیوري ګانې رامنځته کیږي حقیقت دا دی چې ټولنه هغې ته اړتیا لري او د هغوی له سنبالونکي، چمتوکونکي او تبدیلونکي رول پرته د ټولو هغو بیړنیو او اړینو مسایلو حل چې د ټولنې د مادي ژوند تکامل رامنځته کړي دي، ناشوني او ناممکن بریښي. هغه نوي ټولنیزې ایدې او تیوري ګانې چې د ټولنې د مادي حیات د تکامل له حاصل شویو مسایلو څخه رامنځته کیږي، خپله لاره پرانیزي او د ولسونو په واک کې اینودل کیږي او هغوی مجهزوي او د ټولنې د نابودیدونکو ځواکونو پر ضد یې متحدوي او په دې ډول د ټولنې د ورسته ځواکونو چې د ټولنې د مادي حیات د تکامل او پراختیا خنډ ګرځي، د بابودیدنی د بهیر د آسانه کولو وسایل برابروي.

په دې ډول ټولنیزې ایدې او تیوري ګانې او سیاسي سازمانونه چې د ټولنې د مادي ژوند د تکامل د اړینو مسایلو او د ټولنیزه معیشتي شرایطو ثمره ده، په خپل وار د ټولنې پر معیشتي شرایطو او د هغې پر مادي ژوند،

اغیزه کوي او د ټولنې د مادي ژوند د اړینو مسئلو د حل لپاره لازم شرایط برابروي او د هغې د بعدی تکامل امکانات ممکنوي.

له همدې امله مارکس وايي:

«تیوري همدا چې په ولسونو کې نفوذ وکړي په خپله په یو مادي ځواک بدلیږي.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۴۰۶ مخ، روسي چاپ).

نو، د دې لپاره چې د پرولتاریا ګوند وکړای شي د ټولنې د مادي ژوندانه په شرایطو باندې اغیزه وکړي او د ټولنې تکامل او رغاونه ګړندی کړي، ښايي په هغه ټولنیزې ایدې او تیوري ډډه ووهي چې په ښکاره توګه د ټولنې د مادي حیات د تکامل د اړتیاو ښکارندوی وي او وکړای شي د ولسونو پراخه پرګنې وهڅوي، مجهز یې کړي او هغوې د پرولتاریا په هغه ستر لښکر کې متشکل کړي چې د ارتجاعي ځواکونو د ځپلو او په ورته وخت کې د ټولنې مخکښو ځواکونو ته د لارې پرانیستنې چمتوالی لري.

د «اکونومیستانو» او منشویکانو د سقوط یو علت دا وو چې هغوی د مخکښې تیوري او پرمختللې ایدې د هڅونکې، سمبالونکې او تبدیلونکې رول څخه بی خبره ول او د عامیانه افواهي ماتریالیزم مجذوب شوي ول او له همدې امله د دې عواملو رول یې تقریباً صفر ته رسولی وو او ګوند یې پڅتیا او رکود باندی محکومو.

د مارکسیزم ـ لنینیزم د ځواکمنتیا او ژوندتیا لامل په دې کې دی چې پر هغه پرمختللې تیوري تکیه کوي چې د ټولنې د مادي حیات د تکامل او پراختیا غوښتنې په سمه توګه منعکسوي او تیوري بشپړې وړتیا ته رسوي او دا خپل فرض ګڼي چې د دې تیوري د سمبالونکې، تجهیزونکې او تبدیلونکې ځواک څخه په مکمله توګه کار واخلي.

تاریخي ماتریالیزم، د ټولنیز ژوندانه او د ټولنې د شعور تر منځ اړیکه، د مادي ژوندانه د تکامل د شرایطو او د ټولنې د معنوي حیات د تکامل تر منځ اړیکه، په دې توګه حلوي.

### ۳ـ تاریخي ماتریالیزم

اوس هغه څه چې باید روښانه شي، دا دی چې: د تاریخي ماتریالیزم له مخې، «د ټولنې د مادي حیات د شرایطو» مدلول؛ چې بالاخره د ټولنې بڼه، ایدې، نظریات، سیاسي سازمانونه او داسې نور اړوند مسائل ټاکي، څه دی؟

په حقیقت کې دا «د ټولنې د مادي حیات شرایط» څه ته وايي او څه ځانګړنې لري؟

بی له شکه چې د «ټولنې د مادي حیات شرایط» مفهوم تر ټولو لومړی هغه طبیعت رانغاړي چې ټولنه یې احاطه کړی ده، هغه جغرافیایي محیط دی چې د ټولنې د حیات له دایمي او اړینو شرایطو څخه ګڼل کیږي او ښکاره ده چې د هغې په پراختیا او تکامل کې اغیزه لري. په ټولنیز تکامل کې د جغرافیایي موقعیت رول څه دی؟ آیا جغرافیایي محیط هغه اصلي ځواک نه دی چې د ټولنیز بشري رژیم بڼول او بڼه او له یو رژیم څخه بل رژیم ته اوښتل تعیینوي؟

تاریخي ماتریالیزم دې پوښتنې ته منفي ځواب ورکوي.

په دې کې شک نشته چې جغرافیایي محیط د ټولنې د تکامل او پراختیا یو دایمي او له ضروري شرطونو څخه شمیرل کیږي او البته چې د ټولنې په تکامل او پراختیا کې اغیزه لري ـ یعنې دا چې جغرافیایي محیط د ټولنې د تکامل بهیر یا ګړندی کوي او یا یې هم پڅوي. خو د دې محیط اغیزه هومره نه ده چې د ټولنې د حیات برخلیک وټاکي؛ ځکه چې د ټولنې بدلون، تکامل او پراختیا د جغرافیایي تکامل په پرتله څو چنده ګړندی دی. د دری زره

کلونو په ترڅ کې، په اروپا کې درې ډوله بیلابیل تولنیز رژیمونه یعنی لومړنی کمون، برده ګي او فیوډالیزم رامنځته شول او د اروپا په ختیځ کې، د سوسیالیسي شوروی اتحاد په جمهوریتونو کې آن څلور ډوله تولنیزه رژیمونه بدل شول، په داسې حال کې چې په همدې موده کې په اروپا کې جغرافیایي شرایطو یا هیڅ بدلون ونه موند او یا هومره یې بدلون کم وو چې جفرافیه پوهانو آن د هغې له یادونې ډډه کړی ده. علت یې هم ښکاره دی: د جغرافیایي محیط د یو جدي بدلون لپاره میلیونونو کلونو ته اړتیا ده حال دا چې د بشري تولنیز رژیم مهمو تغییراتو لپاره څو پیړی یا هم یو دوه زره کاله بس دي.

نو پایله دا ده چې جغرافیایي محیط نشي کولای د تولنیز تکامل ټاکونکي وسیله او اصلي علت وګڼل شي، ځکه څه چې د لسګونو زرو کلونو په موده کې تقریباً بی تغییره پاتی شي، نشي کولای د هغه څه اصلي سبب شي چې د څو سوه کلونو په واټن کې اساسي بدلون مومي.

نو بیا په دې کې شک نشو کولی چې د نفوس زیاتوالی او د هغه د تراکم درجه د «مادي حیات د شرایطو» له متشکله موادو څخه دي، ځکه چې انسان د تولنې د مادي حیات د شرایطو له اړینو عنصرونو څخه شمیرل کیږي او د انسانانو له نشتوالي پرته د هیڅ ډول تولنیز مادي ژوند امکان نشته دی. آیا د نفوس زیاتوالی د بشري تولنیز رژیم د معینولو هماغه اصلي ځواک دی؟

دې مسئلې ته هم تاریخي ماتریالیزم منفي ځواب وایي.

ښکاره ده چې د نفوس زیاتیدل د تولنې په پرمختګ او پراختیا کې اغیزه لري او دغه بهیر ګړندی کوي یا یې هم شاته اچوي، خو د تولنیز تکامل اصلي لامل ګڼل کیدای نشي او د تولنې د پرمختګونو برخلیک نشي ټاکلی، ځکه چې د نفوس زیاتیدل په یوازې توګه نشي کولای موږ ته وښیي چې ولې یوازې دا نوی تولنیز رژیم د یوه ټاکلي تولنیز رژیم ځای نیسي، ولې د لومړني کمون رژیم ځای د بردګي رژیم او د ملوک الطوایفي رژیم ځای د بورژوازي رژیم نیسي نه یو بل رژیم.

که چیرې نفوس، تولنیز تکامل او پراختیا تعیینولي نو ښایي د بشري نفوس تراکم یو عالي تولنیز رژیم رامنځته کړي، خو په واقعیت کې داسي څه نه لیدل کیږي. په چین کې د نفوس تراکم د امریکا د متحدو ایالتونو څلور برابره دی، حال دا چې د تولنیز تکامل له پلوه د امریکا متحده ایالتونه په لوړ پړاو کې ځای لري، ځکه چې په چین کې لا نیمه ملوک الطوایفي رژیم واکمن دی حال دا چې د امریکا متحده ایالتونه زیاته موده کیږي چې د پانګوالي لوړ پړاو ته رسیدلي دي. په بلژیک کې د نفوس تراکم د امریکا د متحدو ایالتونو په پرتله ۱۹ برابره او د شوروی جمهوریتونو اتحاد په پرتله ۲۶ برابره زیات دی خو د تولنیز تکامل او پراختیا له پلوه، د امریکا متحده ایالتونه له بلژیک وړاندې او بلژیک د شوروي جمهوریتونو اتحاد څخه د یوه تکاملی تاریخی دورې په اندازه وروسته پاتی دی؛ ځکه لا په بلژیک کې پانګوالي رژیم واکمن دی حال دا چې شوروي اتحاد ډیره موده کیږي چې د پانګوالی کار یې پای ته رسولی او سوسیالیستي رژیم یې واکمن کړی دی.

له پورتنیو دلایلو دا پایله لاسته راځي چې د نفوس زیاتوالی، د تولنې د تکامل او پراختیا مهم ځواک نه دی او کیدای هم نشي او هغه ځواک هم نه دی چې د تولنیز رژیم ډول او د تولنې بڼه معین کړي.

**الف.)** نو بالاخره د تولنې د مادي ژوندانه د شرایطو په سیستم کې هغه اصلي ځواک کوم یو دی چې د تولنې بڼه او د تولنیز رژیم ډول او له یو رژیم څخه بل رژیم ته د تولنې پرمختګ ټاکي؟

تاریخي ماتریالیزم باور لري چې دا ځواک د انسان د ژوندانه لپاره **د معیشت د اړینو وسایلو د لاسته راوړلو** له طریقې څخه عبارت دی، یعني **د مادي نعماتو د تولید طریقه**، لکه: خوراک، پوښاک، بوټان، کور، سونګ، د تولید وسایل او داسې نور شیان چې د ژوندانه او د ټولنې د پرمختګ لپاره لازمي دي.

د ژوند لپاره خواړه، پوښاک، بوټان، کور، سونګ مواد او داسې نور شیان باید ولرو. د دې مادي نعماتو د لرلو لپاره ښایي هغه تولید کړو او د هغې د تولید لپاره باید د تولید وسایل موجود وي چې په مرسته یې انسان وکړای شي خواړه، پوښاک، بوټان، کور، سونګ مواد او نور توکي تولید کړي او باید دا وسایل تولید کړو او د هغې د کارولو چال چلند یاد کړو او ورسره آشنا شوو.

**د تولید وسایل** چې په مټ یې مادي توکي تولیدیږي، او همدا ډول انساني افراد چې دا تولیدي وسایل کاروي او **د تولیدي تجربو او د کاري مهارت** د یادولو په پایله کې مادي نعمات تولیدوي، په مجموعي ډول د ټولنې **تولیدونکي ځواکونه** جوړوي.

خو تولیدونکي ځواکونه د تولید یوازې یو اړخ، د تولید د طریقې یو اړخ جوړوي او دا اړخ د اشیاو او طبیعي ځواکونو سره د انسان د اړیکې ښکارندوی دی، چې انسان د مادي نعماتو لپاره هغه کاروي. د تولید بل اړخ، د تولید د طریقې بل اړخ، د تولید په بهیر کې له یو بل سره د انسانانو مناسبات یعني د انسانانو تولیدي مناسبات جوړوي. انسانان د طبیعت سره مبارزه کوي او له طبیعت څخه د تولیدي نعماتو لپاره استفاده کوي خو دا کار په انفرادي او جلا جلا توګه تر سره کیداې نشي؛ بلکې په ګډه او ډله ایزه او په ټولنیزه توګه تر سره کیږي. د تولید دې مناسباتو ته، د هر ډول شرایطو لاندې چې وي، تل **ټولنیز تولید** ویل کیږي. د مادي نعماتو د تولید پر وخت، انسانان په خپلو منځونو کې یو ډول متقابله داخلي مناسبات، یو ډول تولیدي مناسبات ټینګوي. دا مناسبات امکان لري چې د مرستې او کمک په بڼه د هغو کسانو تر منځ موجود وي چې له زبیښاک څخه آزاد دي او دا امکان هم شته چې دا مناسبت د فرمان چلونکي او فرمان وړونکي بڼه ولري او بالاخره امکان لري چې دا مناسبات د تولیدي اړیکو د یوې بڼې څخه بلې بڼې ته د اوښتولو په ډول وي؛ خو دا تولیدي اړیکي هره بڼه چې ولري تل او په ټولو رژیمونو کې، د تولیدونکو ځواکونو په شان، د تولید ضروري عنصر جوړوي.

مارکس وایي:

« انسانان د تولید پر مهال نه یوازې چې پر طبیعت بلکې پر یو بل هم اغیزه کوي. که هغوی د ګډ فعالیت او د خپل فعالیت د مبادلې لپاره په معین ډول له یو بل سره متحد نشي، نشي کولای تولید وکړي. خلک د تولید لپاره ځانګړي اړیکي او مناسبات پیدا کوي او د همدې اړیکو او ټولنیزو مناسباتو له لارې ده چې د طبیعت سره د هغوی مناسبات رامنځته کیږي او تولید تر سره کیداې شي.» (ک. مارکس او ف. انګلس ۵ ټوک، ۴۲۹ مخ، روسي چاپ).

نو، تولید او د تولید ډول، هم د ټولنې تولیدونکی ځواک او هم د انسانانو تولیدي اړیکي رانغاړي او په دې ډول په تولیدي بهیر کې د هغوی د یووالي لامل د هغوی مادي غوښتنې دي.

ب.) **د تولید لومړنی ځانګړنه** دا ده چې هیڅکله هم په یوه ټکي کې د اوږده مهال لپاره نه ځنډیږي او تل د ودې او تغییر په حال کې وي. همدا ډول د تولید په ډول کې بدلون په ناچاره د ټولنیز رژیم، د ټولنیزو اندونو، سیاسی نظریاتو، سیاسي موسسو یعنې د ټول سیاسي او ټولنیز نظام د سازمان د بدلون او نویو کیدو لامل کیږي. انسانان د تکامل په بیلابیلو درجو کې، د تولید له مختلفو طریقو څخه کار اخلي یا په ساده وینا هغوی په بیلابیلو ډولونو ژوند کوي. په لومړني کمون کې د تولید یو ډول، د بردګۍ پر مهال د تولید بل ډول او په فئوډالیزم کې د تولید دریمه طریقه موجوده ده

او.... د تولید د همدې بیلابیلو پړاونو په تناسب، د انسانانو ټولنیز رژیم، د هغوی معنوي ژوند، د هغوی نظریات او سیاسي موسسې هم بیلابیلې وي.

د ټولنې د تولید ډول چې هر رنګ وي، ټولنه په خپله د بنسټ له پلوه همغسې وي، د هغې اندونه او تئوریګانې، نظریات او سیاسي موسسې هم هماغه ډول وي.

که یو څه نور یې هم ساده کړو: د خلکو ژوند چې هر ډول وي، د هغوی نظریات هم هماغه ډول دي.

یعنې دا چې د ټولنې د تکامل تاریخ تر ټولو لومړی عبارت دی: د تولید د ودې له تاریخ څخه. د تولید د ډولونو تاریخ چې په اوږدو مهالونو کې د یو بل ځای نیولی دی، د تولیدونکو ځواکونو او د انسانانو د تولیدي اړیکو د تکامل له تاریخ څخه عبارت دی.

نو، د ټولنیز تکامل تاریخ په ورته وخت کې د مادي غوښتنو د تولیدونکو تاریخ دی؛ د هغه زیارکښو ولسونو تاریخ چې په خپله د تولید د بهیر اساسي ځواکونه دي او د هغه مادي غوښتنو تولیدونکي دي چې د ټولنې د شتوالي او پایښت لپاره اړین دي.

د تاریخ علم، که وغواړي چې یو حقیقي علم وي، نور نشي کولای د ټولنیز تکامل تاریخ د پاچاهانو او سپه سالارانو او «نیواکګرو» او د هیوادونو د «فاتحانو» د عملیاتو په تاریخ بدل کړي، بلکې تر ټولو لومړی باید د مادي غوښتنو د تولیدونکو تاریخ، د زیارکښو پرګنو او هیوادونو تاریخ ته پام وکړي.

له همدې امله، د ټولنې د تاریخ د قوانینو د کشفولو اصلي لامل نباید د افرادو په ماغزو یا عقایدو او د ټولنې په مفاهیمو کې ولټو، بلکې د تولید په هغه طریقه کې باید ولټول شي چې د تاریخ په هره معینه دوره کې د ټولنې لخوا کارول شوی ده، یعنې د ټولنې په اقتصاد کې باید د هغې لټول پیل کړو.

نو ویلی شوو چې د تاریخ د علم لومړنی دنده، د تولید د قوانینو ، د تولیدونکي ځواکونو او د تولیدي اړیکو د تکامل د قوانینو او د ټولنې د اقتصادي تکامل د قوانینو څیړنه او کشف دی.

له همدې امله د پرولتاریا ګوند د دې لپاره چې په سیاست کې په خطا لاړ نشي باید د خپلې تګلارې په طرحه کولو او تدوینولو او هم په خپلو عملي کړنو کې له هر څه دمخه باید د تولید د تکامل او پراختیا قوانین، د ټولنې د اقتصادي پرمختګونو قوانین په پام کې ولري.

ج.) **د تولید دویمه ځانګړنه** دا ده چې بدلون او تکامل یې تل د تولیدونکو ځواکونو او په لومړي درجه کې د تولیدي وسایلو د تکامل او بدلون سره پیل کیږي. تولیدونکي ځواکونه، د تولید تر ټولو خوځنده او له انقلابی عناصرو څخه شمیرل کیږي، ځکه چې لومړی د ټولنې تولیدونکي ځواکونه بدلون مومي او تکامل کوي او بیا تولیدي اړیکې، د افرادو تر منځ اقتصادي اړیکي چې له دې بدلونونو سره بشپړ تړاو او تطابقت لري، تغییر مومي. نو ښایي داسې تصور ونکړو چې ګواکې تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو په تکامل کې اغیزه نلري او تولیدونکي ځواکونه د تولیدی اړیکو سره کوم تړاو نلري. تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو د پرمختګونو له امله پراختیا او تکامل مومي او په خپل وار د تولیدونکو ځواکونو په پرمختګونو کې اغیزناکه تمامیږي، د هغې پرمختګونه ګړندي کوي یا یې هم ځنډوي. دلته باید یادونه وشي چې تولیدي اړیکې نشي کولای د تولیدونکو ځواکونو له زیاتیدنې څخه د ډیرې مودې لپاره شاته پاتې شي او له هغې سره په تضادکې واقع شي. ځکه تولیدونکي ځواکونه هغه وخت کولای شي په کافي اندازه پرمختګ وکړي چې تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو او حالاتو سره متناسبې وي، د تولیدونکو ځواکونو پرمختګ ته میدان ورکړي. له دې امله تولیدي اړیکې که هر څومره هم د تولیدونکي ځواکونو له پرمختګ څخه شاته پاتې وي، ژر یا د وخت په تیریدو سره باید د تولیدونکو ځواکونو د پرمختګونو له درجې او

خصوصیاتو سره متناسب شي او په حقیقت کې داسې هم کیږي. له دې شرط پرته په تولیدي سیستم کې د تولیدونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو یووالی له ریښې څخه ګډوډیږي او تولید هم په بشپړه توګه نابودیږي، په تولید کې کړکیچ رامنځته کیږي او تولیدونکي ځواکونه له منځه ځي.

په پانګواله هیوادونو کې، چیرې چې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی خصوصي مالکیت د تولید له ټولنیزې بڼې او د تولیدونکو ځواکونو سره په فوق العاده ډول نامتناسب دي؛ اقتصادي کړکیچونه د تولیدونکو ځواکونو سره د تولیدي اړیکو د ناهمغاړیتوب یوه بیلګه ده؛ د دې دواړو تر منځ د ټکر او ترنګلتیا یو ښه مثال دی. د دې ناهمغاړیتوب پایله هماغه اقتصادي کړکیچونه دي چې د تولیدي ځواکونو د ویجاړیدنې لامل کیږي. په ورته وخت کې دا ناهمغاړیتوب په خپله د هغه ټولنیز انقلاب بنسټ جوړوي چې دنده یې د شته تولیدي اړیکو له منځه وړل او د هغه نویو تولیدي اړیکو رامنځته کول دي چې د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره متناسب وي.

د پانګوالو هیوادونو په خلاف، د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو په اتحاد کې چیرې چې سوسیالیستي ملي اقتصاد واکمن او پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت د تولید د ټولنیز بهیر له ځانګړتیا سره متناسب دی، او اقتصادي کړکیچونه او د تولیدونکي ځواک ویجاړیدنه موجوده نه ده؛ د تولیدي ځواکونو له خصوصیاتو سره د تولیدي اړیکو د تناسب او همغږیتوب یو مثال دی.

نو تولیدونکي ځواکونه نه یوازې دا چې د تولید تر ټولو خوځنده او انقلابي عنصر دی، بلکې همدا ډول د تولید ټاکونکی عنصر هم دی.

تولیدونکي ځواکونه چې هر ډول وي، باید تولیدي اړیکي هم همغه شان وي.

کله چې د تولیدونکو ځواکونو وضعیت څرګندوي چې انسان د څه ډول تولیدي افزارو سره خپل ضروري مادي نعمتونه تولیدوي، د تولیدي اړیکو وضعیت هم ښکاره کوي چې **تولیدي وسایل** ( ځمکه، ځنګل، اوبه، کانونه، اومه مواد، د تولید افزار، د نقلیه او ارتباطاتو وسایط او داسې نور) د چا په لاس او د چا په واک کې دي؛ آیا د ټولې ټولنې په اختیار کې دي یا که د افرادو، ډلو او بیلابیلو طبقو په لاس کې چې ورڅخه د نورو افرادو، ډلو او طبقاتو د زبیښاک لپاره کار اخلي.

د تولیدونکو ځواکونو د تکامل او پراختیا عمومي بهیر له پخوا څخه تر ننه پورې داسې دی: زیره ډبرین وسایل، په غشي او لیندۍ بدل شول او بیا د ښکار دوره د ژویو په اهلي کولو او په لومړنۍ مالدارۍ واوښته؛ ډبرین وسایل په فلزي آلاتو(اوسپنیزه تبرګي، د اوسپنیزې نوکې یوه او په داسې نورو) تبدیل شول او له دې سره د بوټو روزنه او کرنه پیل شوه؛ په فلزي آلاتو کې د موادو د برابرولو لپاره نوې رغاونه حاصل شوه او د دم بټۍ او همدا ډول سفال جوړونه رامنځته شوه او په پایله کې کسبګري لا بشپړه شوه او د همدې پرمختګ له امله، کسبګري له کرنې بیله او مستقل کارونه او بیا مانوفاکتور پیدا شو، وروسته لاسي تولیدي آلات په ماشین بدل شول او لاسي مانوفاکتوري تولید په میکانیزه صنعت بدل شو؛ بیا د ماشین سیستم او مدرنه ستره میکانیکي لویه صنایع رامنځته شوه؛ دا د بشریت په اوږده تاریخي بهیر کې د ټولنې د تولیدونکو ځواکونو د تکامل نابشپړه منظر وو. همدا ډول ښکاره ده چې د تولیدي افزارو پرمختګ او رغاونه د هغو انسانانو په لاسونو پلې شوې چې له تولید سره یې اړیکي درلودلي دي. دا کار له افرادو څخه په مستقل ډول تر سره شوی نه دی. نو د تولیدي وسایلو او افزارو د تغییر او پرمختګ سره، انسان چې د تولیدي ځواکونو تر ټولو مهم عنصر ګڼل کیږي هم تغییر او پرمختګ کوي او په تولید کې تجربه، د تولیدي وسایلو په کارونې کې مهارت هم تغییر مومي او لا بشپړ کیږي.

د افرادو تر منځ توليدي اړيکې؛ يعني د هغوی تر منځ اقتصادي اړيکي هم د تاريخ په اوږدو کي د ټولني د توليدونکو ځواکونو د بدلون او تکامل سره بدلون موندلی او مخ په تکامل رواني دي.

په تاريخ کي پنځه ډوله **اساسي** توليدي اړيکي معلومي دي: اشتراکي رژيم، بردګي رژيم، فئوډالي رژيم، پانګواله رژيم او سوسياليستي رژيم.

په لومړني اشتراکي رژيم کي، د توليدي اړيکو اساس پر توليدي وسايلو له ټولنيز مالکيت څخه عبارت وو. دا اړيکه اصولاً د هغي پېر د توليدونکو ځواکونو له خصوصياتو سره همغاړي وه. ډېرينو افزارو، غشي او لينده چي وروسته رامنځته شول، انسانانو ته اجازه نه ورکوله چي په انفرادي ډول د طبيعت له قوا او هغو ژويو سره چي بايد ښکار شي، مبارزه وکړي. په دې دوره کي انسانان د دې لپاره چي له ولږې مړه نشي يا د داړونکو حيواناتو او يا د ګاونډي قبيلو قرباني نشي او د ځنګلونو څخه د ميوې شکولو، له اوبو څخه د کب نيولو او يا د هستوګنځي د جوړولو لپاره، مجبور ول چي په ګډه کار وکړي. ګډ کار، پر توليدي افزارو او محصولاتو باندې د ګډ مالکيت لامل کيږي. که چيرې پر ځينو توليدي وسايلو چي د داړونکو حيواناتو په مقابل کي د مدافعي لپاره کارول کيدل، خصوصي مالکيت په پام کي ونه نيسو؛ په دې دوره کي لا انسانان پر توليدي وسايلو د خصوصي مالکيت په معنی نه پوهيدل. په دې دوره کي چا زبيښناک نه پيژندو، بيلابيلي طبقي موجودې نه وی.

د بردګی په دوره کي، پر توليدي وسايلو او پر برده چي توليد کوي؛ مالکيت د توليدي اړيکو اساس جوړوي. د برده مالک کولای شي برده لکه حيوان وپيري، وپلوري او يا يې ووژني. په دې دوره کي، دا ډول توليدي اړيکي، د توليدونکو ځواکونو له وضعي سره متناسبې دي. انسانانو په دې دوره کي، د ډېرينو افزارو پر ځای فلزي آلات او افزار په واک کي درلودل؛ د هغه اقتصاد پر ځای چي يوازې ساده او بدوي ښکار ته منحصر وو او د حيواناتو روزنه او کرنه په کي موجوده نه وه، په دې عصر کي ګورو چي د حيواناتو روزنه، کرنه، لاسي صنايع او د توليد د بيلابيلو برخو تر منځ د کار ويش، راڅرګنديږي؛ د افرادو او ډلو تر منځ د توليد شويو توکو د مبادلي شونتيا راښکاره کيږي؛ د يو شمير کمو کسانو په لاس کي د ثروت تراکم رامنځته کيږي او د وسايلو حقيقي تراکم د لږو کسانو په لاس کي ممکنيږي؛ اقليت کولای شي اکثريت خپل تابع کړي، اکثريت خپل برده کړي؛ په دې دوره کي، د توليد په بهير کي د ټولني د ټولو افرادو ګډ او آزاد کار موجود نه دی؛ په دې دوره کي د بردګانو اجباري کار چي د وزګاره برده لرونکو لخوا استثماريږي، واکمن دی او له دې کبله پر توليدي وسايلو او محصولاتو ګډ مالکيت نشته او ځای يې خصوصي مالکيت نيسي؛ په دې دوره کي برده لرونکي لومړني مطلق او اصلي مالکان دي.

په دې دوره کي د شتمنو او بيوزلو، استثمار کوونکو او استثمارکيدونکو او د بشپړ حقوقو او بی حقوقو کسانو تر منځ سخته طبقاتي مبارزه پيل کيږي – دا د بردګي رژيم بنه ده.

په فئوډالي رژيم کي، پر توليدي وسايلو د فئوډال مالکيت او پر توليدونکي کارګر (سرف) ـ چي فئوډال نور نشي کولای وی وژني خو په پلورلو او پيرلو کي يې آزاد دی ـ د فيوډال محدوده مالکيت توليدي اړيکي جوړوي. په دې دوره کي د فئوډالي مالکيت په وړاندې د دهقان او کسبګر انفرادي مالکيت هم موجود دی. دا مالکيت د توليد پر خصوصي افزارو او اقتصادياتو ودريدلی دی چي د شخصي کار له امله لاس ته راځي. دا توليدي اړيکي هم په کلي توګه د توليدونکو ځواکونو له خصوصياتو سره متناسبې دي. د اوسپني ذوبول او آهنګري د پخوا په پرتله ښه مخي ته ځي؛ يوه او د اوبدلو ماشينونه رواج مومي؛ کرنه، بنوالي، د څښاک توليد او غوړي ايستل له پخوا څخه زياته پراختيا مومي او پرمختګ کوي او د کسبګری د هټيو په مقابل کي مانوفاکتوري موسسي رامنځته کيږي، دا په فيوډالي دوره کي د توليدونکو ځواکونو د وضعيت ځانګړي خصوصيتونه دي.

نوي تولیدونکي ځواکونه ایجابوي چې کارګر په تولیدي چارو کې تر یوې اندازې پورې له نوښت کار واخلي او له کار سره خپله لیوالتیا ښکاره کړي او په ګټه کې شریک شي. نو له دې امله، فئوډال، له هغه برده څخه چې له کار سره یې هیڅ ډول لیوالتیا نلرله او ابتکار یې هم نه درلود، تیریږي او ترجیح ورکوي چې د برده پر ځای د هغه سرف سره سروکار ولري چې خپل اقتصادیات لرلي او د تولیدي آلاتو مالک دی او په کار کې تر هغه اندازه پورې ذینفعه دی چې ځمکه وکري او ارباب ته جنسي مالکانه ګټه ورکړي.

په دې دوره کې خصوصي مالکیت بیا هم پرمختګ کوي او د زبیښناک کچه تقریباً د بردګی د دورې په اندازه ده، خو یو څه نرمه شوی ده. د زبیښاکګرو او استثمار کیدونکو تر منځ طبقاتي مبارزه، د فئوډالي رژیم اساسي ځانګړنه ده.

په پانګواله رژیم کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی مالکیت د تولیدي اړیکو اساس جوړوي. په دې رژیم کې پر تولیدونکو، یعنې پر مزدورو کارګرانو باندې نور مالکیت نشته؛ پانګوال نور نشي کولای هغوی ووژني یا یې هم خرڅ او وپیري، ځکه هغوی له هر ډول شخصي تړاو څخه آزاد دي، خو د تولیدي وسایلو له لرلو محروم دي او د دې لپاره چې له ولږې مړه نشي، مجبوره دي خپل کاري ځواک پانګوالو ته وپلوري او د زبیښناک یوغ اجباراً پر غاړه ویسي. په دې دوره کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی د مالکیت تر څنګ، یو بل شخصي مالکیت هم موجود دی چې د هغو دهقانانو او کسبګرو لخوا پلې کیږي چې د سرواژ له قید څخه آزاد شوي، دا مالکیت چې پر شخصي کار ودریدلی، د دې دورې په لومړیو کې په پراخه توګه رواج لري. په دې دوره کې د کسبګری کارځایونه او مانوفکتوري موسسې، فابریکې او لویې کارخانې چې په ماشینونو سمبالې دي، کار پیلوي. د اربابانو کروندې چې د دهقانانو په ادنې وسایلو کرل کیدې خپل ځای هغه پانګوالیزه کرنې ته ورکوي چې پر کرنیزه علومو ودریدلې او کرنیزه ماشینونه په اختیار کې لري.

نوي تولیدونکي ځواکونه دا ایجابوي چې تولیدونکي د جاهله او عامي سرفانو په پرتله لا روزل شوي او پوه وي څو وکړای شي ماشینونه وپیژني او په سمه توګه یې وکاروي. له همدې امله پانګوالان غوره ګڼي چې د هغه مزدورو کارګرانو سره اړیکه ولري چې د سرواژ له قید څخه آزاد شوي او هومره پوه او روزل شوي دي چې کولای شي ماشین په سمه توګه وکاروي.

خو وروسته له هغې چې پانګوالي، تولیدونکي ځواکونه د پرمختګ لوړې کچې ته ورې، له هغو تضادونو سره مخامخ کیږي چې ورته لاینحل دی او بالاخره پانګوالی خپله لاره ورکوي. پانګوالی د توکو د تولید په لا زیاتولو او د توکو د بیو په راټیټولو سره سیالی زیاتوي؛ هغه خلک چې له کوچني او منځني مالکیت څخه برخمن دي، زیانمنوي او په پرولترانو یې بدلوي؛ د پیریدنې ځواک راټیټوي چې په پایله کې د تولید شویو توکو پلورل ناشوني کوي. پانګوالی د تولید په پراختیا او په سترو فابریکو او کارخانو کې د میلیونونو کارګرانو په راغونډولو سره، د تولید بهیر او ډول ته ټولنیزه ځانګړتیا وربخښي او په دې ډول په خپل لاس، خپل بنسټ ړنګوي. ځکه چې د تولید ټولنیزه ځانګړنه، پر تولیدي وسایلو د ټولنیز مالکیت ایجاب کوي، حال دا چې په دې دوره کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی خصوصي مالکیت پر خپل ځای پاتې کیږي چې دا د تولید د ټولنیز بهیر سره اړخ نه لګوي.

دا د تولیدونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو د خواصو تر منځه نه پخلاکیدونکي تضادونه، د متناوبه کړکیچونو په بڼه راڅرګندیږي چېرې چې توکي او محصولات د مصرف په پرتله زیات تولیدیږي. په داسې حالاتو کې چې پانګوالانو په خپل لاس زیات شمیرکسان نیستی ته کاږلي دي، خپلو محصولاتو ته د نه پیریدونکو له امله مجبوره کیږي چې محصولات وسوځوي؛ تولید شوي توکي نابود کړي؛ تولید ودروي او تولیدي ځواکونه منهدم کړي؛ په داسې حال

کې چې میلیونونه خلک نه د توکو د کافي نشتوالي له امله، بلکې د زیاتوالي له امله ناچاره دي وزګاره پاتې شي او له ولږې سره ژوند تیر کړي.

نو ویلی شوو چې د پانګوالی تولیدي اړیکي نور د تولنې د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره مناسبې نه دي او له یاد شویو ځواکونو سره نه پخلاکیدونکی تضاد لري.

له همدې امله پانګوالی د هغه انقلاب زیږونکی دی چې پر تولیدي وسایلو د پانګوالی د اوسني مالکیت پر ځای سوسیالیستي ټولنیز مالکیت واکمنوي.

نو د زبیښاکګرو او زبیښاک کیدونکو تر منځ سخته طبقاتي مبارزه د پانګوالی رژیم اساسي خصلت جوړوي.

په سوسیالیستي رژیم کې چې اوس یوازې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو په اتحاد کې رامنځته شوی، د تولیدي اړیکو بنسټ، پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت جوړوي. په دې ټولنه کې نور نه زبیښاکګر شته او نه هم استثمار کیدونکي. تولید شوي محصولات، «څوک چې کار ونکړي د خوړلو حق نلري» د اصل له مخې د کار په نسبت ویشل کیږي. د تولید په بهیر کې د انسانانو تولیدي اړیکي، په دوستانه او د هغو کارګرانو په سوسیالیستي مرستو ودریدلي دي چې له زبیښاک څخه آزاد دي. دلته تولیدي اړیکي د تولیدونکو ځواکونو له وضعي سره په بشپړه توګه اړخ لګوي، ځکه چې د تولیدي بهیر ټولنیز خصوصیت پر تولیدي وسایلو د ټولنیز مالکیت سره پیاوړتیا مومي.

له دې کبله د شوروي جمهوریتونو په اتحاد کې، سوسیالیستي تولید د مصرف څخه د زیات تولید له امله د دوره ای کړکیچونو او له اړونده ناخوالو څخه خوندي او محفوظ دی.

نو له همدې امله دلته تولیدونکي ځواکونه په ډیری چټکی د پراختیا او پرمختګ خوا ته درومي، ځکه هغه تولیدي اړیکي چې ورسره همغاړي دي، هغوی ته پرمختګ میدان ورکوي.

دا وو د بشریت په تاریخ کې د انسانانو تر منځ د تولیدي اړیکو تکامل ته یوه ځغلنده کتنه.

دا وو د ټولنې د تولیدونکو ځواکونو او په تیره بیا د تولیدي آلاتو د تکامل سره د تولیدي اړیکو د تکامل تړاو. دا تړاو لامل کیږي چې د تولیدونکو ځواکونو تکامل او بدلون، ژر یا په ځنډ سره په تولیدي اړیکو کې بدلون او تکامل رامنځته کړي.

مارکس وایي:

« که څه هم په لومړني بڼه د کار د وسایلو* ایجادول او کارول ځینو حیواناتو ته هم ځانګړي وي، خو بیا هم د دې وسایلو ایجاد او کارول په ښکاره توګه د انساني کار د بهیر ځانګړنه ده او له همدې امله «فرانکلن» انسان ته یو افزار جوړونکی حیوان وایي. په هره اندازه چې فسیلي هډوکي د هغو حیواناتو د پیژندنې لپاره ضروري دي چې ډولونه یې منقرض شوي، په هماغه اندازه د کار د وسایلو پاتې شونې له منځه تللو بیلابیلو ټولنیزو او اقتصادي سازمانونو د پیژندنې لپاره مهم ګڼل کیږي. د اقتصادي اعصارو ځانګړنه دا نه ده چې څه تولیدیږي، بلکې دا ده چې څرنګه تولیدیږي... د کار وسایل یوازې د بشر د کاري ځواک د پراختیا او پرمختګ معیار نه دی، بلکې د هغو اړیکو استازی هم دی چې کار یې له مخې تر سره کیږي.» (ک. مارکس، «کپیټال»، لومړی ټوک، ۱۲۱ مخ، روسي چاپ ۱۹۳۵).

* د«کار وسایلو» څخه د مارکس موخه په ټولیزه توګه د تولید آلات دي ـ لیکواله بله

او بیا:

«ټولنیزې اړیکي له تولیدونکو ځواکونو سره نژدی رابطه لري. انسانان، نوی تولیدونکي ځواکونه لاسته راوړي، د خپل تولید ډول بدلوي او د تولید د طریقي او همدا ډول د ژوندانه د وسایلو د برابرولو د طریقي له بدلون سره، خپلې ټولنیزې اړیکي هم بدلوي. کله چې میچنه (لاسي ژرنده - ژباړن) معموله وه، سینیور (فئوډال – لیکواله ډله) او کله چې د بخار ژرنده کارول کیږي، صنعتي پانګوال د ټولني مشري په لاس کي لري.» (ک. مارکس او ف. انګلس، ۵ ټوک، ۳۶۴ مخ، روسي چاپ).

- «د تولیدونکو ځواکونو ګرندی حرکت، د ټولنیزو اړیکو انهدام او د اندونو ظهور په پرله پسي توګه دوام مومي، څه چې نامتحرکه دی هغه یوازې مطلق (ابستراکسیون) حرکت دی.» (همغه کتاب، ۳۶۴ مخ).

انګلس د «کمونیست ګوند مانیفست» په سریزه کې، تاریخي ماتریالیزم داسي تعریفوي:

« د هرې دورې اقتصادي تولید او ټولنیز سازمان، چې په ناچاره له اقتصادي تولید څخه رامنځته کیږي، په هره تاریخي دوره کې، د هغې دورې د سیاسي او فکري تاریخ اساس جوړوي.... د دې اصل په سبب د لومړني، اشتراکي مالکیت له انحلال وروسته، ټول تاریخی بهیر د زبیښاکګرو او زبیښاک کیدونکو تر منځ د طبقاتي مبارزې د تاریخ او همدا ډول د ټولنیز تکامل په بیلابیلو پړاونو کي د تابع طبقاتو او واکمنو طبقو تر منځ د مبارزې تاریخ دی.... دا مبارزه، اوس داسي پړاو ته رسیدلی چې زبیښاک کیدونکي او ستمځپلی طبقه (پرولتاریا) بی له دې چې په یو وخت کي ټوله ټولنه له زبیښاک او ستم او طبقاتي مبارزې څخه د تل لپاره وژغوري، نشي کولای خپل ځان د هغې طبقي (بورژوازي) له منګولي خلاص کړي چې هغه استثماروي او تر فشار لاندې یې نیسي....» (د «مانیفست» په آلماني چاپ باندې د انګلس سریزه).

د. **د تولید دریمه ځانګړنه** دا ده چې د نوي تولیدونکو ځواکونو پیدایښت او له هغې سره متناسبه تولیدي اړیکې، د مخکني رژیم څخه بهر یا د هغې له انحلال وروسته نه تر سره کیږي، بلکي په خپله بی د هغه مخکني فعالیت څخه چې د انساني شعور له مخې پلی شوی وي د مخکني رژیم په منځ کي رامنځته کیږي؛ له بشري شعور او ارادې پرته د هغه خپلواکه او مستقل پیدایښت دوه لاملونه لري:

لومړی دا چې انسانان د تولید د طریقي د دې یا هغه ډول په اختیارولو کي خپلواکه نه دي، ځکه کله چې هر نوی نسل رامنځته کیږي له هغه چمتو شوي تولیدي ځواکونو او تولیدي اړیکو سره مخامخ کیږي چې د مخکني انسانانو د کار پایله ده او له همدې امله په لومړیو کي باید ټول هغه شیان چې د تولید په بهیر کي برابر او چمتو دي او دې ورسره مخامخ کیږي، ومني اود مادي نعمتونو د تولید د امکان د حاصلولو لپاره باید ځان ورسره عیارکړي.

دویم دا چې انسانان د تولید د دې یا هغې وسیلي د اصلاح، د تولیدونکو ځواکونو د دې یا هغي عنصر د اصلاح پر مهال، د دې اصلاح څخه د حاصل شوي **ټولنیزې** پایلي کیفیت نشي درکولای او په اړه یې فکر نکوي او له پوهیدو څخه یې عاجز دي. د هغوی فکر یوازې خپلي ورځنی فایدې ته متوجي دی، فکر یې دا دی چې خپل کار آسانه کړي او محسوسه او ژرمهاله ګټه تر لاسه کړي.

کله چې د لومړني اشتراکي ټولني یو شمیر کسان په تدریج او ورو ورو د ډبرینو وسایلو او افزارو څخه لاس په سر کیدل او اوسپنزه افزارو او وسایلو ته یې مخه کوله؛ ښکاره ده چې په دې نه پوهیدل او فکر یې هم نه رسیده چې دا نوی کار به څه ټولنیزې پایلي رامنځته کړي، هغوی دې ته متوجه نه ول او خبر یې نه درلود چې اوسپني افزارو او آلاتو ته لیږدیدنه، په تولید کي د انقلاب معنا لري او بالاخره د بردګي رژیم د رامنځته کیدو لامل کیږي. هغوی یوازې

غوښتل خپل کار لا آسانه کړي او محسوسه او ژرمهاله ګټه تر لاسه کړي. کومې کړنې چې هغوی د شعور له مخې تر سره کولې د همدې ورځنی شخصي ګټو په کوچنې دایره کې محدودې وې.

کله چې د فئوډالي رژیم په دوره کې، د اروپا ځواني بورژوازي، د کسبګرو د کوچنیو کارځایونو په کتار کې د لویو مانوفاکتوري کارخانو په جوړولو پیل وکړ او په دې سره یې د ټولنې تولیدونکي ځواکونه مخې ته بیول، ښکاره خبره ده چې په دې نه پوهیده او فکر ته یې هم نه رسیده چې دا نوی کار به څه **ټولنیزې** پایلې ولري. بورژوازي نه پوهیده چې دا «کوچنی» بدعت به په ټولنیزو ځواکونو کې داسې نوې ډلبندۍ رامنځته کړي چې د هغه پاچا د واکمنتیا په وړاندې چې مراحم او الطاف یې بورژوازۍ ته قرب او منزلت درلود او د هغه اشرافو او د نجباو د واکمنتیا په وړاندې چې د بورژوازۍ اکثره غوره استازو په خپله هیله درلوده چې د هغوې په کتار کې وي، د انقلاب لامل شي. بورژوازي یوازې غوښتل توکي لا ارزانه تولید او د آسیا او امریکا بازارونو ته چې نوي کشف شوي ول، لا زیات توکي صادر او زیاته ګټه تر لاسه کړي. کومه کړنه چې بورژوازي د شعور له مخې تر سره کوله د همدې ورځني عملیاتو د محدودې دایرې څخه بهر نه وه.

کله چې روسي پانګوالو د بهرنیو پانګوالو په ملتیا، بې له دې چې د تزاري اصولو سره څه کار ولري ـ په جدیت یې معاصره ماشیني صنایع په روسیه کې رامنځته کوله او دهقانان یې د ملکانو تومه ګرځول؛ ښکاره خبره ده چې د تولیدونکو ځواکونو د پام وړ ودې د **ټولنیزو** پایلو له څرنګوالي څخه بې خبره ول او په دې اړه یې فکر نه کاوه او دې ته یې پام نه درلود چې د ټولنې په تولیدي ځواکونو کې دا جدي خوځښت به په ټولنیزو ځواکونو کې داسې نوی ډلبندۍ رامنځته کړي چې په پایله کې به پرولتاریا وکړای شي کلیوال له ځان سره متحد او بریالی سوسیالیستي انقلاب به تر سره کړي. نوموړو پانګوالو یوازې غوښتل صنعتي تولید ته بې کچه پراختیا ورکړي، ستر کورنی بازار په خپل اختیار کې ولري او ځان ته یې منحصر کړي او د ملي اقتصاد څخه ډیر برخمن او ګټه تر لاسه کړي. کومه کړنه چې دې پانګوالو د شعور له مخې تر سره کوله د هغوی د ورځني عملي ګټو په کوچنی دایره کې محدوده وه.

له دې امله مارکس وایي:

«انسانان، د خپل ژوندانه په ټولنیز تولید کې (یعني د هغه مادي نعمتونو په تولید کې چې د هغوې د ژوندانه اړتیا ده ـ لیکواله ډله) داسې ضروري او معیني اړیکي ټینګوي چې د هغوې د ارادې په حیطه کې نه دي، یعني په داسې تولیدي اړیکو کې ورګډیږي چې د هغوی د مادي مولده ځواکونو د پرمختګ او تکامل له معیني کچې سره متناسبې دي.» (ک. مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۲۶۹ مخ ، روسي چاپ).

خو باید داسې تصور ونکړو چې د تولیدي اړیکو تغییر، یعني نویو تولیدي اړیکو ته د پخوانیو اړیکو بدلون، په نرمۍ او بې له کومې ترنګلتیا او تزلزل تر سره کیږي. بر عکس، دا ډول بدلون معمولاً د انقلاب له لارې؛ د پخوانیو تولیدي اړیکو په ړنګیدنې تر سره کیږي. د تولیدونکو ځواکونو پرمختګ او تکامل او په تولیدي اړیکو کې بدلون تر یوې کچې پورې په خپله او د افرادو له ارادې پرته ادامه مومي. خو دا هغه مهال امکان لري چې رامنځته شوي تولیدونکي ځواکونه وخت پیدا کړي څو پرمختګ او تکامل وکړي او بلوغ ته ورسیږي. کله چې نوي تولیدونکي ځواکونه د بلوغ کچې ته رسیږي، موجوده اړیکي او واکمني طبقې چې د دې اړیکو مشخصه ګڼل کیږي، په «نه لیرې کیدونکي» خنډ بدلیږي، دا خنډ له لارې نشو لیرې کولی، مګر د نویو طبقو په ارادي فعالیت سره، د دې طبقو په جبري عمل، یعني په انقلاب سره. دلته دی چې د ټولنیزو اندونو، د نویو سیاسي سازمانونو او د نوي سیاسي ځواک **ستر رول،** چې د پخوانی تولیدي ځواک د ړنګولو لپاره کارول کیږي، په ځلانده توګه راڅرګندیږي . نوي ټولنیز نظرونه، د نویو تولیدونکي ځواکونو او د پخوانیو تولیدي اړیکو تر منځ د اختلاف او منازعې له امله او د ټولنې د نویو اقتصادي

اړتیاوو پر بنسټ رامنځته کیږي. نوي نظرونه ولسونه متشکل او بسیجوي، ولسونه د نوي سیاسي پوځ په شان سره یوځای کوي، نوي انقلابي واکمني جوړوي او هغه د نوي تولیدي اړیکو له لړۍ څخه د زړو انتظاماتو د اجباري انتقال او د نوي انتظام د واکمنۍ لپاره کاروي. د انسان شعوري فعالیت د پرمختګ د خپلسره بهیر ځای نیسي؛ آرامه پراختیا او پرمختګ په اجباري بدلون اوړي او د تدریجي تکامل ځای انقلاب نیسي.

مارکس وایي:

«پرولتاریا د بورژوازۍ په ضد مبارزه کې قطعاً د یوې طبقې په بڼه متحده ... او د انقلاب له لارې، ځان پر واکمني طبقې بدلوي او د واکمني طبقې په توګه پخواني تولیدي اړیکي لغوه کوي.» («د کمونیست ګوند مانیفست»، ۲۵ مخ، روسي چاپ، ۱۹۳۸).

او بیا زیاتوي:

«پرولتاریا به خپله سیاسي واکمنتیا د دې لپاره وکاروي چې په تدریجي ډول، پانګه د بورژوازۍ له منګولو وباسي او د تولید ټول وسایل او افزار د دولت، یعني د هغه پرولتاریا په لاس کې متمرکز کړي چې د یوې واکمني طبقې په توګه متشکله شوی، او د امکان په اندازه او په ډیر سرعت سره د تولیدونکو ځواکونو اندازه ډیره کړي.» (همغه کتاب، ۵۰ مخ).

«جبر، د قابلې په شان، هره زړه ټولنه چې د نوې ټولنې د زیږیدني بطن دی، له خپل بار څخه خلاصوي.» (ک. مارکس «کپیټال» لومړی ټوک، ۶۰۳ مخ، ۱۹۳۵ کال، روسي چاپ).

مارکس په ۱۸۵۹ کال کې د خپل مشهور اثر («د سیاسي اقتصاد پر علم نیوکه») په تاریخي سریزه کې د تاریخي ماتریالیزم د ماهیت په اړه دا داهیانه فورمول بیانوي:

«انسانان د خپل ژوندانه په ټولنیز تولید کې معیني او ضروري اړیکي ټینګوي چې د هغوی د ارادې په حیطه کې نه دي، یعني په داسي تولیدي اړیکو کې ورګډیږي چې د هغوی د مادي تولیدونکو ځواکونو د پرمختګ او تکامل له یوې معیني درجې سره متناسبې دي. د دې تولیدي اړیکو مجموعه، د ټولنې اقتصادي سازمان او د هغې واقعي بنسټ جوړوي چې پر هغه باندې قضایي او سیاسي روبناګاني رامنځته کیږي او د ټولنیز شعور معیني بڼې له دې بنسټ سره متناسبې دي. د مادي حیات تولیدي ډول د ټولنیزو او سیاسي بهیرونو او جریانونو او په ټولیزه توګه د ژوندانه د معنویاتو شرط ګڼل کیږي. څه چې د انسانانو هستي ټاکي د هغوی پوهه او شعور نه دی، بر خلاف دا د هغوی ټولنیز ژوندون دی چې د هغوی شعور او پوهه معینوي. د ټولنې مادي تولیدونکي ځواکونه د خپل تکامل په یوې ټاکلي پوړۍ کې د شته تولیدي اړیکو او یا د مالکیت اړیکو سره چې د تولیدي اړیکو فقط قضایي اړخ دی او د دې اړیکو په منځ کې د پرمختګ او پراختیا په حال کې دی، تضاد پیدا کوي - دا اړیکي چې تر اوسه پورې د تولیدونکو ځواکونو د تکامل یوه بڼه وه، اوس هغوې ته خنډ ګرځي - او دلته دی چې د ټولنیز انقلاب وخت رارسیږي. اقتصادي بدلونونه، لږ او زیات، ورو یا چټک، د دې لویې ټولنې ټول مظاهر ړنګوي. د دې ډول بدلونونو په ارزونې کې لازمي ده چې تل هغه بدلون چې د اقتصادي تولید په شرایطو کې رامنځته کیږي او د طبیعي علومو سره تطبیقیږي، له قضایي، سیاسي، مذهبي، ابداعي یا فلسفي بدلونونو او په لنډه توګه د ایدئولوژي د ټولو شکلونو څخه چې انسانان دا اختلاف د هغې په دایره کې درک کوي او له هغې سره په جګړه کې دي، فرق کړو. څرنګه چې د یو منفرد کس په اړه نشو کولای د هغه نظر پر اساس قضاوت وکړو چې هغه یې په خپله د ځان په اړه لري، همداسي نشو کولای د داسي تحولي دورې په اړه د هغې دورې د پوهې او شعور له مخې قضاوت وکړو. بر عکس، دغه شعور او پوهه باید د مادي حیات او د ټولنیزو تولیدونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو تر منځ د شته اختلافاتو له مخې توضیح کړو. هیڅ ټولنیز نظام له منځه نه ځي،

مګر دا چې ټول هغه تولیدونکو ځواکونو ته چې میدان ورکول کیږي، تکامل ونه مومي، او هیڅ عالي او نوي تولیدي اړیکي نه رامنځته کیږي، مګر دا چې د هغوی د شتوالي مادي شرایط د زړې ټولنې په لمن کې بشپړ نشي. له دې امله بشریت یوازې تل هغه چارې خپل مخې ته ږدي چې د حل وس یې ولري، ځکه که موضوع په لا ځیرتیا تر مطالعې لاندې ونیسو، و به ګورو چې دا ستونزې په خپله هغه وخت راڅرګندیږي چې د حل لپاره یې یا لازم مادي شرایط شته یا هم د زیږیدنې په حال کې وي.» (ک. مارکس، «د آثارو غورچاڼ» لومړی ټوک، ۲۷۰-۲۶۹ مخونه، روسي چاپ).

په دې ډول دا د مارکسیستي ماتریالیزم ماهیت دی که چیرې د ټولنیز ژوندون او د ټولنې له تاریخ سره تطبیق کړای شي. دا د دیالکتیک او تاریخي ماتریالیزم اساسي ځانګړنی دي.

له دې نکاتو څخه لیدل کیږي چې لنین دګوند لپاره، د رویزیونیستانو او د منحطو او مرتدو عناصرو د ناوړه مقاصدو په برابر کې له څه یوې تیوریکي ګنجینې څخه دفاع وکړه او زموږ د ګوند د ودې او تکامل لپاره د لنین د ماتریالیزم او امپریو کریتیسیزم د کتاب ظهور څومره زیات اهمیت درلود.

«سیند خپرندویه» خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ
۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قربانی، ژباړه: مرینه سحر
۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ
۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپيڅلی
۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ
۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار
۷. لیو هولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ
۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک
۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ
۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي
۱۱.کوراوغلو او کنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

خپرېږي:

## زما ګیتار!